# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## خبرپاڼه

درېیم کال - ۷مه ګڼه | پرله‌پسې ۶۹مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۵/۰۲/۲۳



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکتورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:


۱- د اصلاح شویو تخمونو مرسته او د کرنیز تولید د زیاتوالي فرصت

۲- بلخ کې ۷۰۰ میلیونه ډالره پانګونه او د صنعتي ودې نښې

۳- د هرات د جامو صادرات او د کوچنیو صنایعو وده

# د اصلاح شویو تخمونو مرسته او د کرنیز تولید د زیاتوالي فرصت



کرنه د افغانستان د اقتصاد اساسي برخه او د ملا تیر بلل کېږي. له دې سکتور سره هر ډول مرسته کولی شي په افغانستان د خوړو خوندیتوب او د عوایدو پر لوړولو مستقیم اغېزو لري. د بلخ ولایتي مسوولینو په وینا، ازبېکستان له افغانستان سره ۴۰ میټریک ټنه اصلاح شویو کرنیز تخمونو مرسته کړې چې د پنبې، وریجو او سبزیجاتو تخمونه په کې شامل دي او د حیرتان بندر له لارې هېواد ته رارسېدلي دي.

اصلاح شوي تخمونه د دودیزو تخمونو په پرتله لوړ حاصل ورکوي، د اقلیم او ناروغیو په وړاندې زیات مقاومت لري. دا ډول تخمونه د کرنیز تولید د عصري کېدو له پاره ډېر مهم ګڼل کېږي. د مسوولینو په وینا، دا نوي رارسېدلي تخمونه به د هېواد په مختلفو ولایتونو کې بزګرانو ته ووېشل شي، چې له امله به یې د کرنې پراختیا کې عملي اغېز ولیدل شي.

د حاصلاتو زیاتوالی د کورنیو بازارونو له پاره د خوراکي توکو عرضه لوړوي او د وارداتو اړتیا ورسره کمېږي. دغه راز، کله چې د کرنیزو تولیداتو کیفیت ښه شي، نو صادراتو ته یې زمینه برابرېږي. سربېره پر دې د بزګرانو عاید ورسره لوړېږي چې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا لامل ګرځي.

د اصلاح شویو تخمونو کارونه د هېواد د کرنیز سکتور د لا ډېرې پیاوړتیا له پاره اساسي ګام دی. که دغه ډول همکارۍ دوام ومومي او اصلاح شوي تخمونه په سم ډول وکارول شي، نو د افغانستان کلیوالي اقتصاد او کرنیز محصولات به د پام وړ پرمختګ وکړي.

# بلخ کې ۷۰۰ میلیونه ډالره پانګونه او د صنعتي ودې نښې

بلخ د افغانستان له مهمو سوداګریزو او صنعتي مرکزونو ګڼل کېږي. د ځایي مسوولینو په وینا، په دې ولایت کې په دې وروستیو کې د پانګونې کچه زیاته شوې



ده. په دې ولایت کې د تېر کال په اوږدو کې په بېلابېلو تولیدي او اقتصادي برخو کې څه باندې ۷۰۰ میلیون ډالر پانګونه شوې ده. دغه پانګونه د اوسپنې تولید، کرنې، خوراکي توکو او نورو اقتصادي برخو کې شوې ده. په مختلفو سکتورونو کې پانګونه ښیي چې په بلخ کې پانګونه یوازې په یوه سکتور کې محدوده نه ده، بلکې د تولیدي اقتصاد بېلابېلې برخې یې تر پوښښ لاندې راوستې دي.

د سوداګرۍ د چاپېریال ښه کېدل، کورنیو او سیمه ییزو بازارونو ته لاسرسی او د سوداګرو د باور زیاتوالی د دې بدلون مهم عوامل بلل کېږي. په بلخ کې د پانګونې تمرکز دا پیغام ورکوي چې هلته

د سوداګرۍ او صنعت له پاره مناسب فرصتونه شته دي.

په بلخ کې د دې پانګونې له درکه کاري فرصتونه زیات شوي او د هېوادوالو د عاید کچه لوړه شوې ده. دغه راز، د کورني تولید له زیاتوالي سره د وارداتو اړتیا هم کمېږي چې دا د سوداګرۍ د توازن له پاره ښه زېری دی.

د افغانستان اسلامي امارت مسوولینو هڅه کړې چې په هېواد کې د سوداګرو او صنعتکارانو له پاره لازمي اسانتیاوې برابرې کړي، ځکه د اقتصادي ودې او پانګونې د جذب له پاره د اسانتیاوو برابرول ډېر مهم دي.

## د هرات د جامو صادرات او د کوچنیو صنایعو وده

د افغانستان د صادراتو د ودې په برخه کې په هرات کې د پام وړ ګام اخیستل شوی دی. له دې ولایت څخه عراق ته د ښځو او ماشومانو د جامو (کالیو) لومړنی صادراتي محموله لېږدول شوې، چې ارزښت يې شاوخوا ۱۰۰ زره ډالر دی او ۲۰ زره جوړه جامې په کې شاملې دي.

د هرات د کالیو تولیدوونکو په وینا، صادرې شوې جامې یا کالي د لوړکیفیت لرونکو موادو او معیاري طرحو پر بنسټ تولید شوي دي. د دوی په وینا، نږدې راتلونکي کې به د عراق بازارونو ته د هرات د جامو د صادراتو له پاره نور لوی ګرونونه هم عملي شي.

د نړیوال بازار له پاره کیفیت او نوښت مهم شرط دی، چې دا کار د صادراتو دوام تضمینوي. د افغانستان سوداګر او صنعت کاران که غواړي چې په نړیوال بازار کې دوامداره ځای ومومي او سیالي وکړي، نو ضروري ده چې کیفیت، نوښت او ډیزاین ته ډېره توجه وکړي. کوچني صنایع لکه د کالیو، بوټانو او بکسونو تولید د کارموندنې مهمه سرچینه ده، چې د کمې پانګې په مقابل کې کولی شي زیات کاري فرصتونه ایجاد کړي.

هرات په لویدیځ افغانستان کې د صنعتي مرکز نوم غوره کړی او په دې وروستیو کې ګڼو افغان صنعت کارانو په کې پانګونه کړې ده. اسلامي امارت له ټولو کورنیو او بهرنیو پانګوالو غوښتي چې په افغانستان کې پانګونه وکړي او هغه لازمي اسانتیاوې چې اړتیا ورته شته، هغه به د امارتي مسوولینو له لوري ورته برابرې شي.

